مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنګاښ ۲٦مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱۷مه | درېیم کال|٤٠٦مه ګڼه

# د ټاکنو په تړاو د څارونکو بنسټونو اندېښنې؛

## کمېسیونونه د شفافو ټاکنو جوګه نه دي، ښايي بحران رامنځ ته کړي



په شته ولسي جرګه کې د ولسي جرګې تشه
۲ مخ

د سیمې هېوادونه؛ لنډمهاله او اوږدمهاله ګټې!
۲ مخ

په افغانستان کې د امریکا درې لویې تېروتنې
۳ مخ

## اعتراض کوونکي: ولسي پاڅون کوونکو په لوګر کې ملکیانو ته درنه مرګ ژوبله اړولې ده

په لوګر ولایت کې ولسي پاڅون کوونکو عام خلک وژلي دي.
د لوګر ولایت اوسېدونکي وايي چې د ولسي پاڅون کوونکو غړو ورمه ورځ د دغه ولایت د زرغون ښار په کارېز سعید کلي کې د ملکي وګړو پر یوه غونډه برید کړی چې له امله یې دوه کسه وژل شوي او لس نور ټپیان دي.
دغه پېښه داسې مهال شوې چې د سیمې خلکو د ولسي پاڅون کوونکو د ناوړه کړنو او ظلمونو له امله په اعتراض لاس پورې کړی و.
اعتراض کوونکو چې د وژل شوو کسانو جسدونه یې له ځان سره لېږدول، د څو ساعتونو لپاره د کابل- ګردېز لویه لاره هم د تګ راتګ پر مخ تړلې وه.
دوی خبرداری ورکړی چې حکومت دې دغه مسئله ژر تر ژره وڅېړي او د خلکو غوښتنو ته دې ځواب ووايي.
په لوګر کې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پر وړاندې دغه اعتراض داسې مهال دی، چې په دې وروستیو کې د هېواد په ډېرو ولایتونو کې په شپنیو عملیاتو او هوايي بریدونو کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله په بې ساري ډول لوړه شوې ده. د ملکیانو دغې مرګ ژوبلې په کور دننه او بهر د عامو افغانانو او نړیوالو بنسټونو توند غبرګونونه هم راپارولي دي.

## بشیر نورزی له ګوانتانامو زندانه د طالبانو په غوښتنه ازاد شوی دی



۲ مخ

## کتاب

۴ مخ

## راځئ سفر وکړو




د مادیاتو اخیستلو په پرتله د تجربو اخیستل اسانه هم دي او داسې څه دي چې نه له لاسه ورکول کېږي او نه هم زړېږي. په اصل کې دا تجربې دي چې زموږ د وجود یوه برخه جوړوي، له نورو سره مو نږدې کوي او ډېرې لویې خوښۍ راکوي.

## د کانونو او پټرولیم وزارت شپږ اقتصادي پروژې داوطلبۍ ته وړاندې کوي





د کانونو او پټرولیم وزارت وايي چې شپږ سترې اقتصادي پروژې داوطلبۍ ته وړاندې کوي.
د دغه وزارت ویاند عبدالقدیر مطفي پرون ازادي راډیو ته وویل، چې په دې کې د هرات، کندهار او بغلان د سیمنټو او دغه شان د غزني د طلا زرکشان، د ننګرهار د اچین تالک او د بدخشان د لاجوردو د کانونو پروژې شاملې دي.
نوموړی وايي: «د دې پروژو د داوطلبۍ د اسنادو د راټولېدو چارې پیل شوې او موږ هیله من یو چې په دې سره به زموږ په هېواد کې پانګونه هم زیاته شي».
د کانونو وزارت ویاند دا هم وايي چې له دې وړاندې یې هم ځینې پروژې دواطلبۍ ته وړاندې کړې دي، چې د یادو پروژو په برخه کې د ۲۰۰ میلیونو ډالرو په شاوخوا کې د پانګونې تمه کېږي.

## صدیقی: این بار اعضای هیئت گفت‌وگو کننده اندک ولی باتجربه خواهند بود



ریاست‌جمهوری می گوید که تلاش‌ها از بهر نهایی سازی هیئت گفت‌وگو کننده صلح با طالبان شدت یافته‌است و حکومت می‌کوشد تا افرادی را در ترکیب این هیئت شامل سازد که در گفت‌وگوها تجربه داشته باشد.
صدیق صدیقی سخنگوی رئیس‌جمهور، دیروز گفت که این بار شمار اعضای هیئت گفت‌وگو کننده حکومت اندک خواهد بود و نیز کسانی عضو این هیئت خواهند بود که در گفت‌وگوها و صلح تجربه داشته باشند. صدیقی گفت: «هدف اساسی ما این است، افراد و اشخاصی که به نماینده‌گی از مردم و دولت افغانستان وارد مذاکرات می‌شوند، تجارب بیشتر داشته باشند و بتوانند که از مردم نماینده‌گی بهتر نمایند». با این همه برخی از اعضای شورای ملی از حکومت می‌خواهند که هیئت گفت‌وگو کننده حکومت با طالبان باید ملی و همه شمول باشد.
واقف حکیمی، عضو ولسی جرگه گفت: «هیئت متشکل از لایه‌های مختلف دولت افغانستان باشد؛ هیئت با صلاحیتی که از جناح‌های سیاسی، احزاب، جامعه مدنی و مردم افغانستان نماینده‌گی بتواند».
اما منابع نزدیک به طالبان می‌گویند که اگر هیئت حکومت افغانستان در نشست آینده گفت‌وگوهای میان افغانان که قرار است در سمرقند برگذار شود، از نشانی‌های خودشان شرکت کنند، طالبان مخالف نخواهند بود.
در عین حال وحید مژده فعال سیاسی گفت: «امریکایی‌ها می‌خواهند که از مذاکرات بین‌الافغانی یک دست آورد داشته باشند و امریکا می‌خواهد به مردم‌اش بگوید که کسانی که سال‌ها با هم درگیر بودند، با هم نشستند و به توافق رسیدند».



## دریځ

# په شته ولسي جرگه کې د ولسي جرگې تشه

د روان کال د ثور په شپږمه نوې ولسي جرگه پرانیستل شوه او ټاکل شوې چې څو ورځې وروسته وکیلان د اوړي په رسمي رخصتۍ ولاړ شي، خو جرگې لا هېڅ کار نه دی کړی او آن له داخلي لانجې څخه وتلې نه ده. د اداري پلاوي پر سر له لانجو وروسته اوس د وکیلانو ترمنځ د ډېرو کمېسیونو د ریاست پر سر لانجې دي او یوه بله یوه لانجه یې را پیدا کړې ده. د ستونزې بل اړخ دا دی چې ځینو کمېسیونونو ته وکیلان د غړیتوب لپاره نه ورځي، خو ځینو نورو ته بیا له حده ډېر کسان ورغلي چې په کمېسیون کې ورته ځای نشته.

د ولسي جرگې د دغه حالت له امله موږ له دوو ستونزو سره مخ یو. یو دا چې د ولسي جرگې نورمال کارونه له خنډ او ځنډ سره مخ دي او بل دا چې افغانستان په ناوړه حالت کې دی چې د یوې پیاوړې او فعالې ولسي جرگې سخته اړتیا احساسېږي.

همدا اوس ویل کېږي چې تر سلو زیات تقنیني سندونه شته چې باید وکیلان پرې بحث وکړي او تصویب یې کړي. د ولسمشر ډېر تقنیني فرمانونه دي چې ولس ته یې زیان اوړي او وکیلان یې باید په اړه پرېکړه وکړي. تر نیمایي ډېره کابینه لا هم سرپرستان اداره کوي چې حکومتولۍ ته یې سخت زیان اړولی دی. د دغو سرپرستانو له امله حکومت د شخصي کمپنۍ بڼه غوره کړې او پراخ فساد پکې روان دی. دا چې په ولسي جرگه کې لانجه ده، نو ځکه سرپرستان کار ته دوام ورکوي او ولسي جرگې ورته د باور رایه نه ده ورکړې. له بله اړخه د حکومت پر اعمالو نظارت د ولسي جرگې حق دی. له بده مرغه وکیلان په خپلو لانجو اخته دي او حکومت خپلسري او د قانون خلاف کارونه کوي. همدا اوس په ځینو ادارو کې په پراخه کچه اداري فساد روان دی، حکومتولي خرابه شوې او ستونزې زیاتې شوې دي. د حکومت له کړنو څخه د نظارت نشتوالی د دې لامل شوی چې دا ستونزې ډېرې شي. همداسې گڼ نور کارونه هم شته چې د شته ولسي جرگې د عدم فعالیت له امله له خنډ او ځنډ سره مخ دي.

دویمه ستونزه دا ده چې افغانستان په ناوړه حالت کې دی او د یو ستر بدلون وخت ښکاري. لا معلومه نه ده چې دا بدلون به مثبت وي او که منفي، خو ټول پوهېږي چې یو ستر بدلون را روان دی. له بده مرغه په دغه بدلون کې د افغانانو رول او اراده یا نشته او یا هم خورا کمزورې او پیکه ده. که اوس موږ یوه فعاله او کارنده ولسي جرگه لرلی، نو دا بدلون به یې په دقیق ډول څارلی وی. دا بدلون به یې مثبت اړخ ته روان کړی وی او د منفي بدلون په مخنیوی کې به یې گامونه اخیستي وی. له بده مرغه چې اوس د ولسي جرگې د نشتون له امله موږ په دې برخه کې هم ستر زیان کړی.

وکیلانو ته پکار ده چې نورې دا ناوړه معاملې ودروي، خپلې داخلي ستونزې حل کړي، د پیسو او فساد کیسه ختمه کړي، خپلو ورځنیو چارو او د افغانستان سترو مسایلو ته پام وکړي او خپله دنده ترسره کړي.

# د سیمې هېوادونه؛ لنډمهاله او اوږدمهاله گټې!

لیکنه: عزیز چوپان

د افغانستان او گاونډیو هېوادونو گټه په دې کې ده چې په خپلو کې سره زیانمنې شوې اړیکې او باور له سره ورغوي. دا هېوادونه یو هم د نړۍ کوم بل کونج ته کډه نه شي کولای، نو ښه دا ده چې په خپلو کې خپلې اړیکې عادي کړي، یو بل ته د مرستې لاس ور وغځوي او که نور هېڅ هم نه وي، نو اړیکې خو باید پر دې اساس عیارې کړي چې «وروري به کوو؛ خو حساب تر منځ». په دې کې هېڅ لوری هم زیان نه کوي او دا دې دواړو په گټه خبره ده. ښايي ځینې لوري دا په خپله گټه وبولي چې توده گټه له سړې گټې غوره ده، خو زه فکر کوم چې په دې اړه لږ تامل پکار دی؛ ځکه سیاست د احساساتو خبره نه ده، بلکې باید ټول لوري له لږ تامل او غور نه کار واخلي. زما هدف دلته یوازې افغانستان او پاکستان یا یوازې افغانستان او ایران یا یوازې افغانستان او د مرکزي آسیا هېوادونه نه دي، بلکې زه د ټولو خبره کوم. که چېرې دغه هېوادونه ټول په خپلو کې د اعتماد فضا رامنځته کړي، ټول به ترینه گټه واخلي. زه ان د هند او پاکستان خبره کوم. ښايي د هند او پاکستان تر منځ د کشمیر شخړه پر دې حل نه شي چې دواړه لوري د ټول عمر لپاره یو بل ته گوته په ماشه ناست وي او که نه دا دواړه هېوادونه څو څو ځله سره ټکر هم شول چې د همدې تضاد او دښمنۍ په نتیجه کې پاکستان په ۱۹۷۱ ز کال کې تجزیه شو. دغسې ښايي سبا ته هند هم له یوه دغسې خطر سره مخ شي لکه په ۱۹۹۸ ز کال کې که امریکا مداخله نه وای کړې، ښايي پاکستان په کارگل کې له هنده خپل انتقام اخیستی وای یا دا چې دا موضوع دې دواړو هېوادو تر منځ پر یوه تمام عیار جنگ بدله شوې وای. که چېرې د دغو دواړو هېوادونو تر منځ موجوده بې اعتمادي پر اعتماد بدله نه شي، دا خطر هره شېبه موجود دی چې دې دواړو لوریو تر منځ یو ځل بیا د جنگ اور بل شي، لکه چې دا څه موده د مخه هندي الوتکې راغلې او د پاکستان په خاوره کې یې بمبارد وکړ، چې په نتیجه کې د هند یوه مگ الوتکه هم د پاکستان د هوایي ځواکونو لخوا را وغورځول شوه او پیلوټ یې هم ژوندی ونیول شو؛ خو د پاکستان حوصله مندۍ دا چې علت یې هر څه و، هغه جلا بحث غواړي د دواړو هېوادو تر منځ د جنگ مخه ونیوله. اوس دلته پر دې خبره غور کول پکار دي چې د کشمیر مسئله د هند د وېش پر مهال چا لاینحله پرېښوده او له دې کار نه یې هدف څه و او اوس څوک غواړي له دې اختلاف نه د ځان په گټه کار واخلي؟ امریکا دا مهال له چین او روسیې سره په نړیوال تقابل کې ده چې په نظامي سیالۍ سربېره تر ډېره اقتصادي انگېزه هم لري. امریکا، د چین له مخ پر ودې اقتصاد نه ډېره وېره لري او د چین د دې اقتصادي ودې مخه هم نه شي ډپ کولای؛ ځکه یو کارگر چې په چین کې په څومره لږه اجوره کار کوي، په امریکا کې یې هېڅکله نه کوي، همدا اوس امریکا پخپله له یو ډول اقتصادي رکود سره مخ ده؛ خو امریکا غواړي خپلو هژموني سیاستونو ته له دې لارې وده ورکړي. امریکا غوښتل چې د هند او چین تر منځ له سرحدي اختلافونو څخه گټه واخلي او هند د چین پر وړاندې استعمال کړي؛ خو هند پر دې نزاکت پوه شو او دې ته یې لار خلاصه نه کړه چې د امریکا د اهدافو د تحقق په خاطر د چین پر وړاندې استعمال شي؛ نو یې هڅه وکړه چې له چین سره خپلې اړیکې تر ډېره بریده عادي کړي او تجارتي اړیکي سره ټینگ کړي. همدغسې له پاکستان سره د امریکا تودې اړیکې د همدې لپاره دي چې د چین پر وړاندې ترینه کار واخلي؛ خو پاکستان هم پر دې خبره ښه پوهېږي او چین هم. چین د همدې لپاره د یوه اقتصادي دهلېز د غځولو لپاره په پاکستان کې تر شپېتو ملیاردو ډالرو زیاته پانگونه اعلان کړه. اوس په پاکستان کې عمده مسئله د گوادر بندر دی، پاکستان له چین سره قرارداد کړی چې دا بندر ورته ورغوي او امریکا غواړي دا امتیاز د چین له لاسه واخلي او د همدې سیالۍ په خاطر یې د بلوڅو د خپلواکۍ غورځنگ د نړیوالو ترهگرو په لېست کې شامل کړ؛ خو زه فکر کوم پاکستان ته دغسې امتیازات ورکول به د لنډمهال لپاره وي، چې کله یې حاجت پوره شو، امریکا بیا دوستي نه پېژني. زه یې دلته یو ژوندی مثال ورکوم. د ایران پخوانی پاچا رضاشاه پهلوي د امریکا ډېر ټینگ دوست و؛ کله چې د هغه صدراعظم ډاکټر مصدق پرې کودتا وکړه، رضاشاه له ایرانه وتښتېد؛ خو کله چې ډاکټر مصدق د ایران تېل ملي اعلان کړل، انگریزانو له امریکا سره غوړونه و جنگول چې دا خو زموږ دواړو په زیان دی؛ نو د ډاکټر مصدق حکومت یې را نسکور کړ، هغه یې زندان ته واچاوه او رضاشاه یې بېرته ایران ته راستون کړ او بیا ځلې یې واک ته ورساوه؛ خو په ۱۳۵۷ لمریز کال کې د هغه د سقوط یو عمده دلیل د هغه د مېرمنې له خولې دا دی، چې رضاشاه یوه تېروتنه وکړه او هغه دا چې هغه پخپله د ایران تیل ملي اعلان کړل. دلته سړی دې نتیجې ته رسېږي چې د استعماري ملکونو اهداف خو تل د هغوی پر گټو تکیه وي او هسې پر بشري بنیادونو پر چا تش سلام هم نه اچوي. که چېرې امریکا پر دې باور شي چې پاکستان زما د گټو د تحقق په جهت کې زما په ښه نه راځي؛ نو بیا به یې له پاکستان سره هم چلند همدغسې وي. له بلې خوا د گاونډیو هېوادونو یو پر بل تکیه، پر نړیوال استعمار تر تکیې غوره ده، همدارنگه د سیمې له هېوادونو سره ښې اړیکې پر نړیوال استعمار تر تکیې ډېره غوره دي. تاسې وگورئ همدې امریکا چې پاکستان د ساړه جنگ پر مهال د پخواني شوروي پر وړاندې ورسره څومره مرسته وکړه او څومره خطرونه یې ومنل؛ خو چې پر پاکستان بده ورځ راغله او بنگال ترینه د بېلېدو پر پوله ودرېد، امریکا ورسره هېڅ مرسته ونه کړه، که څه هم چې پر افغانستان د شوروي تر تجاوز وروسته هم پاکستان له امریکا سره ډېره مرسته وکړه، که چېرې د پاکستان مرسته نه وای، امریکا د شوروي پر وړاندې هغه نقش نه شو لوبولای لکه چې ویې لوباوه. شوروي د افغان مجاهدینو پر وړاندې مات شو او امریکا له شوروي نه د ویتنام غچ واخیست. امریکا له پاکستان سره همدومره اړیکې ساتي او همدومره مرستې ورکوي چې د امریکا له مداره ونه وځي او که نه، پاکستان باید هېڅکله دا ونه گڼي چې امریکا به یې په هره بده ورځ په ښه راشي. همدارنگه انگلیس هم له چین سره دښمني لري، انگلیس له ۱۸۴۰-۴۲ ز کلونو پورې پر چین د تریاکو جگړه وتپله او په ۱۹۹۷ ز کال کې چین هانکانگ د انگلیس له منگولو ویوست؛ د دوی هم یو بل ته له زړه نه وځي چې دغسې انگلیس هم پاکستان ته ډېر ضرورت لري.

که چېرې د شوروي او ایران یا اوس د روسیې او ایران اړیکو ته را شو، پر ایران د روسانو لخوا د گلستان او ترکمنچای تړونونو تحمیل د ایران لپاره یوه ډېره بده خاطره ده؛ خو کله چې په ۱۳۵۷ لمریز کال کې په ایران کې د امام خمیني په مشرۍ د اسلامي انقلاب بریا له لوېدیځ سره د ایران اړیکې تر ډېره بریده خرابې کړې، که څه هم کله نا کله د دې خرابو اړیکو د رغولو هڅه هم شوې ده؛ خو هغه یوه مقطعي خبره ده، لکه په ۲۰۰۱ ز کال کې چې امریکا پر افغانستان برید کاوه، نو ډېر پروازونه یې د ایران له هوایي قلمرو نه په گټې اخیستنې سره وکړل؛ خو اوس هغه دې گورو چې د امریکا او ایران او حتی انگلیس او ایران اړیکې په کوم حالت کې دي. ایران د لوېدیځ پر ځای دې ته اړ درلوده چې له شوروي او بیا دا دی اوس له روسیې سره دوستانه اړیکې ولري او په بدل کې یې د امریکا او د هغې د لوېدیځو انډیوالانو د تهاجمي سیاستونو مخه ډپ کړي. دغسې دا اوس په منځني ختیځ کې د ایران او سعودي د روان تقابل تر شا هغه دې ښکاره د امریکا او اروپایي استعمارگرو لاس دی، که چېرې دا دواړه اسلامي هېوادونه په خپلو کې سره عادي اړیکې ولري او خبره د تشیع او تسنن د ایډیالوژیکو اختلافونو له دایرې نه بهر کړي، زه فکر کوم چې دوی یو داسې قوت تشکیلولای شي چې لوېدیځ استعمار دلته خپل اهداف هغسې یې چې زړه غواړي، نه شي تر سره کولای.

که چېرې د سیمې هېوادونه او خصوصاً اسلامي هېوادونه په خپلو منځو کې موجودې بې باورۍ ختمې کړي او یو بل ته د مرستې صادقانه لاسونه ورکړي، فکر کوم چې لوېدیځ به پخپله په دوی پسې را منډې کړي؛ خو کاش دا هېوادونه لږ ساړه وخوري او خپلې گټې او زیانونه د تعقل په ترازو کې وتلي. که دغه هېوادونه پر خپلو لنډمهالو گټو پرمخې پرېوځي، لږ دې پر خپلو اوږدمهالو گټو هم فکر وکړي او گرده اسلامي نړۍ دې په پام کې ولري.

## مژده: بشیر نورزی له گوانتانامو زندانه د طالبانو په غوښتنه ازاد شوی دی

په قطر کې د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ تر اووم پړاو مذاکراتو وروسته، چې پایلو ته یې خوشبینۍ ډېرې دي، امریکا په یوه تازه اقدام کې د طالبانو د گوانتانامو زندان بندي بشیر نورزی، ازاد کړی دی.

بشیر نورزی چې په بشر نورزي شهرت لري، په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکایي ځواکونو له لوري نیول شوی و او تر اوسه په گوانتانامو زندان کې بندي و.

بشیر نورزی چې سوداگر او د طالبانو مهم مالي تمویلوونکی و، د طالبانو پخواني مشر ملا عمر ته نږدې کس گڼل کېږي.

طالبانو ته نږدې سرچینې وایي چې له گوانتانامو زندانه د نورزي د ازادېدو مسئله د طالبانو او امریکایي پلاوي ترمنځ په مذاکراتو کې هم مطرح شوې وه او اوس یې د امریکا له لوري ازادېدل او اماراتو ته ستنېدل طالبانو ته یو ډول امتیاز ورکول دي.

د سیاسي چارو شنونکی وحید مژده وایي: «د سولې په روانو خبرو کې امتیازات ډېره مشخصه مسئله ده چې امریکا غواړي په راتلونکې کې له طالبانو سره ښې اړیکې ولري، نو له همدې کبله اوس ښکاري چې د طالبانو ډېرې غوښتنې په پام کې نیول کېږي، که څه هم ځینې مسایل تر اوسه پرځای پاتې دي».

دوی زیاتوي چې د قطر په تېره ناسته کې



دغه راز وسله والو طالبانو له امریکایي پلاوي غوښتنه کړې، چې هغه دوولس مېرمنې هم خوشې کړي چې د امریکا په بند کې دي.

په ورته مهال په داسې حال کې چې حکومت وایي له طالبانو سره تر سپټمبر مخکې یوه تفاهم ته رسېدل غواړي، خو طالبانو ته نږدې کسان وایي چې طالبان له حکومت سره مذاکراتو ته چمتووالی نه لري او ټاکل شوې زلمی خلیلزاد د روانې میاشتې په وروستیو کې له طالبانو سره د سولې مسوده نهایي کړي.

له دې سره په کور دننه بیا تر ډېره غوښتنې دا دي، چې تر ټاکنو مخکې باید د سولې هڅې گړندۍ شي.

د مشرانو جرگې غړې وایي چې که تر ټاکنو مخکې سوله وشي، په سوله ییزه فضا کې د شفافو ټاکنو تر سره کېدو ته فرصت برابرېږي.

د مشرانو جرگې غړی رحمت الله اڅکزی وایي: «زما له نظره ۹۹ سلنه افغانان سولې ته لومړیتوب ورکوي، نو له همدې کبله باید تر ټاکنو سولې ته لومړیتوب ورکړل شي».

د گوانتانامو له زندان څخه د پخواني طالب چارواکي د ازادېدو او د سولې مسودې د نهایي کېدو په تړاو څرگندونې داسې مهال دي، چې افغان حکومت تمه ښودلې چې په راتلونکو څو اونیو کې به له طالبانو سره مخامخ مذاکرات پیل کړي.

# په افغانستان کې د امریکا درې لويې تېروتنې

◀ لیکنه: متقاعد امریکايي جنرال ډانلډ بولډک / ژباړن: جواد تیموري

د متحده ایالتونو د اردو متقاعد جنرال، ډانلډ بولډک د امریکا په مشهور نظامي اخبار، میلیټري ټایمز کې لیکي، جنګ تل له تېروتنو او غلطو قضاوتونو سره مل وي. همدا د جنګ فطرت دی. ځینې تېروتنې د جنګي شرایطو په بدلون پورې اړه لري او ځینې نور په نظام او سیستم پورې. متحده ایالتونو په افغانستان کې د پام وړ تېروتنې کړې دي.

جنرال بولډک لیکي، واقعیت دا دی چې د افغانستان ټوله جګړه له تېروتنو ډکه ده او همدا وجه ده چې «کامیابي» ورکه او نامعلومه ده. که څه هم د امریکا پوځ په افغانستان کې په تاکتیکي لحاظ ښه وځلېدی، خو د امریکا سیاسي مشران او عالي رتبه جنرالان په دغه جنګ کې ناکامه شول؛ ځکه هېڅکله ښه تاکتیک بده ستراتېژي نه شي سمولای. په افغانستان کې زموږ ستراتېژیکه بې ثباتي د حد اقل ثبات راوستلو مخه ونیوله، خو له بده مرغه له هېچا سره د دغو تېروتنو په اړه حساب او کتاب ونه شو، نو له همدې کبله ښه به دا وي چې موږ له افغانستانه راووځو.

نوموړی لیکي چې متحده ایالتونو د عراق د جګړې ترڅنګ، په افغان جګړه کې هم ډېرې تېروتنې کړې، چې درې لويې يې په لاندې ډول دي:

**لومړۍ لویه تېروتنه**

په افغانستان کې زموږ لومړۍ ستره تېروتنه دا وه چې موږ د افغانستان په جګو او تنګو درو کې خپل عسکر ورننه ایستل. موږ د شورويانو د عسکرو ټولو د عبرت درسونو ته شا کړه. موږ غوښتل چې پر افغانانو باندې امریکايي حللاره تحمیل کړو. موږ افغانانو ته اجازه ور نه کړه چې خپل مشرتوب پخپله وکړي، بلکې موږ د هغوی اوړده او له ستونزو ډک تاریخ ته هېڅ توجه ونه کړه. موږ ډېر ژر دا هېره کړه چې ولې افغانستان ته د امپراتوريو «هدیره» وايي او ولې برېټانویان او شورويان هلته مات او توهین شول.

موږ دا هم هېره کړه چې که څه هم افغانان مرستو ته اړتیا لري، خو که چېرې خارجي عسکر د هغوی په ملک کې زیات پاتې شي، افغانان د هغوی پر ضد خامخا قیام کوي. موږ د دې پر ځای چې په افغانستان کې اول ښه کلک تهداب جوړ کړو، لومړی مو بام او چت جوړ کړ. همدا وجه ده چې له اولې ورځې څخه بیا تر نن پورې دا بام چکک کوي.

**دویمه لویه تېروتنه**

موږ په افغانستان کې طالبانو ته له ۲۰۰۳ ز کال څخه بیا تر ۲۰۰۹ ز کال پورې اجازه ور کړه چې بیا سره راغونډ شي او بیا را ژوندي شي. د عراق جنګ زموږ توجه او منابع بل طرف ته واړول. په ۲۰۰۴ ز کال کې طالبان بیا سره منظم شول او په کلیو کې يې د خلکو د حمایت د حاصلولو په غرض فعالیت پیل کړ. په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ ز کلونو کې طالبانو د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د ټېک ځای پیدا کړ. له ۲۰۱۰ ز څخه تر ۲۰۱۳ ز کال پورې موږ د سوچ په ټال کې زنګېدو او زیات عسکر مو افغانستان ته واستول. که څه هم زموږ څه پرمختګ وکړ، خو له بده مرغه له ۲۰۱۳ ز کال څخه بیا تر نن پورې موږ خپل ټول موفقیتونه له لاسه ور کړل.

**درېیمه لویه تېروتنه**

موږ په ۱۸ کلونو کې پر دې ونه توانېدو چې د افغانستان د مخدره موادو مشکل حل کړو. په افغانستان کې د مخدره موادو کاروبار ښه په درز روان دی او طالبان له دې لارې زیاتې روپۍ تر لاسه کوي.

د مخدره موادو د مخنیوي لپاره یو ښه عملي حل دا و چې همدا صنعت قانوني شي او له کوکنارو څخه په طبابت کې استفاده وشي. دغه کار به هم زیات خلک استخدام کړي وای او هم به د نورو زراعتي بدیلونو لپاره زمینه مساعده شوې وای، خو موږ دا کار ونه کړ، بلکې ډېر ژر مو حوصله له لاسه ورکړه.

مرکزي او جنوبي اسیا د جهان هغه سیمې دي چې هلته تروریزم، افراطیت، د عامې تباهۍ وسلې او جنګونه پکې پرېمانه دي. متحده ایالتونه او ناټو مجبور دي چې په دې سیمه کې خپل ستراتېژیکي اهداف او ګټې مشخصې کړي او یوه داسې عملي ستراتېژي معرفي کړي چې زموږ ګټې را وساتي. د دې ستراتېژي انکشاف دا ایجابوي چې موږ هغه کارونه وکړو چې کولای يې شو او هغه کارونه چې افغانان يې کولای شي، هغه هغوی ته ور پرېږدو.

# د ټاکنو په تړاو د څارونکو بنسټونو اندېښنې؛

## کمېسیونونه د شفافو ټاکنو جوګه نه دي، ښايي بحران رامنځ ته کړي




د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو په اړه د اندېښنو په تړاو تازه پر انتخاباتو څارونکي اداري وايي، انتخاباتي کمېسیونونه چمتو نه دي چې پر وخت د ولسمشرۍ ټاکنې تر سره کړي. د دغو ادارو مسوولان د یوې خبري ناستې پر مهال د ټاکنو پروړاندې د اړوندو ادارو بې تفاوتۍ ته په اشارې سره وايي، چې ښايي ولسمشریزې ټاکنې پر وخت او شفافې تر سره نه شي. دوی وايي چې له انتخاباتي کمېسیونونو سره د نړیوالو ادارو د ژمنو پر عملي کېدو هم شک لري.

د ولسمشریزو انتخاباتو مودې په را نږدې کېدو سره پر انتخاباتو څارونکي بنسټونه پر وخت د ولسمشریزو انتخاباتو د تر سره کېدو په تړاو شک ښيي. څارونکي بنسټونه وايي، افغان حکومت، نړیواله ټولنه او اړوند ارګانونه له ټاکنو سره سطحي چلند کوي چې له همدې امله ښايي د ټاکنو خپلواک کمېسیون راتلونکې ټاکنې په شفافه او ټولمنلې توګه تر سره نه شي کړی. د افغانستان د شفافو ټاکنو د بنسټ رییس نعیم ایوب زاده وايي: ((له بده مرغه باید ووایم چې موږ د تلې په میاشت کې د شفافو او عادلانه ټاکنو لپاره تیار نه یو. زموږ راپور ښيي چې موږ به ټولمنلې ټاکنې تر سره نه شو کړی. دا ډېره بدمرغي ده او راتلونکې ټاکنې له ګواښ سره مخ کوي)).

پر ټاکنو څارونکي بنسټونه په یوه ګډ راپور کې وايي، نړیوالې ټولنې له کمېسیونونو سره تل د مالي ملاتړ ژمنې کړې، خو اوس پرې شک لري او وايي چې ښايي نړیواله ټولنه خپلو ژمنو ته وفاداره پاتې نه شي. د دوی په خبره، دغه ټولنه هم د افغان ټاکنو په اړه واحد دریځ نه لري. همدا راز د افغانستان ملاتړي او متحد هېوادونه هم ډول ډول دریځونه لري. دوی همدې مسایلو ته په اشارې وايي، چې ښايي راتلونکې ټاکنې په هېواد کې یو جدي بحران رامنځ ته کړي. د ازادو او عادلانه ټاکنو د بنسټ مشر یوسف رشید وايي: ((نړیواله ټولنه هم پر خپلو ژمنو نه ده ولاړه. دلته هم واحد دریځ نشته دی. څوک سولې ته لومړیتوب ورکوي او څوک ټاکنو ته. همدغه بحث دی چې اعتماد زیانمن شوی دی)).

دغه بنسټونه د نړیوالې ټولنې پر ملاتړ شک لري او وايي، د تېر په پرتله راتلونکو ټاکنو ته ژمن نه ښکاري. د ایوب زاده په خبره، نړیوالې ټولنې پخوا په ټاکنو کې ډېر قوي دریځ درلود او ملاتړ به يې کاوه، خو اوس دا ملاتړ یو څه کمرنګه دی. نوموړی وايي: ((نړیوالې ټولنې د ټاکنو کلک ملاتړ کاوه، خو اوس چې موږ کوم شک لرو ښايي رښتیا وي. د نړیوالې ټولنې له ملاتړ پرته دا ټاکنې په سمه توګه نه شي تر سره کېدلی)).

دوی همدا راز د ټاکنو له خپلواک کمېسیونه هم د نهو میلیونو کسانو د نوملیکنې وضاحت غواړي او وايي، د کمېسیونونو په هغو ارقامو شک لري، چې ویل کېږي، نهو یا نهه نیم میلیونو کسانو د رايې ورکولو لپاره نوملیکنه کړې ده.

پر ټاکنو د څار بنسټونه د راتلونکو ولسمشریزو انتخاباتو لپاره د کمېسیونونو د نه امادګۍ خبره داسې مهال کوي، چې د راتلونکو ولسمشریزو ټاکنو لپاره څه کم دوه میاشتې پاتې دي. بلخوا ورمه ورځ بیا د ټاکنو خپلواک کمېسیون رییسې وویل، چې ټاکنو ته بشپړ تیاری لري او دغه ټاکنې به پر خپل وخت تر سره کېږي.

# اروپايي ټولنه: له نړیوالو قدرتونو سره له شوي اټومي تړونه د ایران سرغړونه جدي نه ده



اروپايي ټولنې ویلي، اروپایان د ایران د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه د ایران سرغړونه ډېره جدي نه بولي.

د دوی په خبره، ایران د ۲۰۱۵ ز کال له اټومي تړونه داسې لویه سرغړونه نه ده کړې، چې د دغه تړون د عملي کېدو خنډ شي.

د اروپايي ټولنې د دغو څرګندونو اشاره د ایران له لوري د یورانیمو د بډاینې د کچې لوړېدو ته وه چې د دغه تړون پر خلاف يې دا ګام اخیستی دی.

د اروپايي ټولنې د بهرنۍ پالیسۍ مشرې فېډریکا موګریني ویلي، چې د دغه تړون اروپايي لاسلیک کوونکي هېوادونه اوسمهال نیت نه لري چې د دغه تړون د اختلافاتو د حل لپاره یوه تګلاره رامنځته کړي.

موګریني ورمه ورځ په بروکسل کې د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو تر غونډې وروسته خبریالانو ته ویلي، چې له ایران سره د دغه تړون د بشپړ خوندیتوب لپاره يې ښه بحثونه کړي دي.

نوموړې زیاتې کړې: «موږ ټول هغه اقدامات چې له بده مرغه د ایران له لوري شوي، ومو لیدل او ومو ارزول او له ایرانه مو وغوښتل چې بېرته د دې تړون بشپړ عملي کېدو ته ور وګرځي، غواړو واضح ووایم، ټول هغه تخنیکي اقدامات چې شوي، د بېرته راګرځېدو وړ دي».

په بروکسل کې د اروپايي ټولنې د بهرنیو چارو وزیرانو یاده غونډه په همدې موخه جوړه شوې وه چې د امریکا او ایران تر منځ تر وروستیو لانجو وروسته د ایران د اټومي تړون د خوندیتوب لپاره لارې چارې ولټوي.

دا په داسې حال کې ده چې امریکا په ۲۰۱۸ ز کال کې له دغه تړونه ووتله او پر ایران يې نور بندیزونه ولګول.

د دغه تړون له مخې، ایران اجازه لري چې ۳۰۰ کیلوګرامه یورانیم تر ۳،۶۷ درجې غلضت پورې بډای کړي.

په همدې حال کې د برېټانیا د بهرنیو چارو وزیر جرمي هنټ ویلي، چې لاهم د دغه تړون د خوندیتوب لپاره وخت شته.

نوموړي زیاته کړې، سره له دې چې امریکا او برېټانیا نږدې متحدین دي، خو لندن له ایران سره د بحران په مخته وړلو کې له متحده ایالتونو سره موافق نه دی.

د اروپايي ټولنې تر دې غونډې وړاندې د ایران ولسمشر حسن روحاني ټینګار کړی و چې هېواد يې له امریکا سره خبرو ته حاضر دی، خو په دې شرط چې امریکا پر تهران بندیزونه پای ته ورسوي، خو د امریکا د بهرنیو چارو وزیر د ایران د ولسمشر دغه وړاندیز رد کړی دی.

مایک پامپیو ورمه ورځ واشنګټن پوسټ ورځپاڼې ته ویلي چې دا هغه وړاندیز دی چې حسن روحاني د امریکا پخواني ولسمشر بارک اوباما او د بهرنیو چارو وزیر جان کیري ته هم کړی و.

## د کتـــاب خبـــرې


# پښتانه

### د افغانستان او پاکستان د راتلونکي ناحل شوې مسئله

◎ لیکوال: ابوبکر صدیق

◎ ژباړن: اقامحمد قریشي

### لومړی څپرکی
### د یوویشتمې پېړۍ پښتانه




د ۲۰۰۲ز کال په پسرلي کې د زرمت ولسوالۍ په ټکور غره او شاوخوا سیمو کې امریکایي ځواکونه له سختو بریدونو او جګړو سره مخ شول. د لومړي ځل لپاره امریکایي ځواکونه د طالبانو او القاعدې له مخامخ جګړې سره مخ شول او تلفات هم ورته واوښتل. په دې جګړه کې ښکېل کسان هم د حقاني کسان وو.

**له کندهار تر سواته**

که څه هم د افغانستان ډېری پښتانه په سویل ختیځ او ختیځو سیمو کې اوسېږي، خو په سیاسي لحاظ د افغانستان د سویل پښتانه لوړ ارزښت لري. د لومړي ځل لپاره د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې د ایراني صفویانو پر ضد په کندهار کې پاځون وشو. په ۱۷۴۷ز کال د احمدشاه دراني تر واکمنۍ لاندې دا سیمه د درانیو د سیاسي قدرت مرکز او د هېواد پلازمېنه شوه. هغه د خپل قوم نوم له ابدالي په دراني واړاوه او تر ۱۷۷۹ز کال پورې یې واکمني وکړه. د احمدشاه دراني واکمني لومړی یوه امپراتوري وه، خو وروسته افغانستان په شلمه پېړۍ کې لومړنی خپلواک اسلامي هېواد و.

دا سیمه کمونېستي کادرونو او د مجاهدینو د مشـرانو له پامه وغورځول شوه، خو دې سیمې په سیاسي لحاظ یو ځل بیا په ۱۹۹۰ز لسیزه کې د طالبانو له واک ته رسېدو سره سم ارزښت پیدا کړ، کندهار یو ځل بیا پلازمېنه شوه. لوی کندهار لا هم د دراني قومونو د سیاسي واک لپاره لوی ارزښت لري. په کندهار کې غلجي او دراني دواړه مېشت دي. پخوا غلجي د ښار په ختیځه او دراني په لوېدیځه برخه کې مېشت وو، خو اوس هغوی له یو بل سره ګډ مېشت دي. د دې سیمې قومي اړیکې تر ډېره پیکه شوې او د خلکو له نومونو سره یوازې د کندهار نوم یادېږي. لوی کندهار کې پر کندهار ولایت سربېره د هلمند، زابل، ارزګان، فراه او نیمروز ولایتونه هم شامل دي. طالبان لومړی ځل له همدې ځایه راپورته شول، د هغوی مشـران او جنګیالي هم د همدې سیمې وو.

د لوی کندهار کرنه تر ډېره پر(هلمند وادي)خړوبه ده چې هندوکش د غرونو د سویلي درو له واورو یې اوبه ورځي. په دې سیمه کې خورا ډېر غنم کرل کېږي خو د دې سیمې انار او انګور هم لوی شهرت لري. په تېرو دوو لسیزو کې د هیرویینو د تولید په موخه د تریاکو کرکیلې د لوی کندهار د دودیزې کرنې ځای نیولی دی. کندهار د کابل او لوېدیځ ښار هرات ترمنځ پروت دی. د چمن له لارې له کراچۍ ښار سره هم لاره لري، ځکه نو د هېواد لپاره د تجارتي مرکز حیثیت هم لري. په دې وروستیو کې د هند په مالي لګښت له کندهاره د ایران تر چاه بهار پورې پوخ سړک هم جوړ شوی. په دې سیمه کې په دې وروستیو کې د امریکایانو پر وړاندې سختې جګړې شوې دي، دې جګړو هغه مهال لا زور واخیست چې امریکایانو د یاغیانو ضد ستراتېژۍ له مخې جګړه لا ځواکمنه کړه.

په تېرو دوو لسیزو کې د لوی کندهار سیاست د غیرقانوني سوداګرۍ، ټرانسپورټ او قاچاق تر سیوري لاندې راغلی دی. په ۱۹۹۸ز کالد (وېش) په نوم چمن ته څېرمه د بولدک ښارګوټي یوه بازارګي ته لاړم. دا ښارګوټی چې په یوه دښته کې پروت دی، هلته کولای شئ وروستی ماډل ورزشي موټر، کباړ ټایواني کمپیوټرونه، ارزانه ایراني خاورین لوښي او ان که بلد اوسئ چینایي وسلې هم اخیستلای شئ. په دې مارکېټ کې هرڅه له سند پرته تر لاسه کولای شئ. پښتانه له دې مارکېټ لویه ګټه اخلي.

ډېر ژر کولای شئ، له بولدک، چمن ته د یوه نړیوال سرحده واوړئ، دلته بیروکراتیک شکلیات په نظر کې نیول کېږي خو دواړې سیمې سره نښتې دي او په اسانۍ کولای شئ یوه او بل اړخ ته لاړ شئ. د (ژباړن: ډیورنډ کرښه هېڅکله د یوه رسمي نړیوال سرحد په توګه نه ده پېژندل شوې.) په دې سیمه کې تر ډېره اڅکزي او نورزي قومونه مېشت دي، هغوی د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته تګ راتګ کوي، له یو بل سره دوستۍ هم لري. هغه خلک چې په چمن کې کاروبار کوي، د ځینو کورونه یې سپین بولدک کې دي او هغه چې بولدک کې کاروبار کوي، د ځینو کورونه یې چمن کې دي. د پاکستان په بلوچستان کې د نورو سیمو خلک هم د ډیورنډ کرښې دواړو غاړو ته تګ، راتګ کوي. په دې سیمه کې چې کوم خلک اوسېږي، د افغانستان د سویلي سیمو د خلکو په لهجه خبرې کوي.

د دې سیمو د خلکو تر منځ اړیکې په تېرو څلوېښتو کلونو کې لا پراخې او نږدې شوې دي، ځکه په ۱۹۷۰ز کال په زرګونو بلوځ یاغیان د افغانستان سویلي سیمې ته لاړل او مېشت شول، خو د دې اړیکو معاصره برخه له هغه وخت را پیل شوه چې پر افغانستان د روسانو له یرغل سره سم پښتانه پاکستان ته کډوال شول. هغه افغانان چې بلوچستان کې کډوال وو له ځان سره یې د کرنې مهم مهارتونه هم راوړي وو چې هماغلته به یې ترې استفاده کوله. په افغانستان کې د ځمکې لاندې اوبو د راویستلو لپاره کارېزونه جوړ شوي دي، خو په بلوچستان کې د واټرپمپونو په مرسته د اوبو نارونه جوړ شوي او کار ترې اخلي.

چمن پخپل سویلي اړخ کې د کوږک له لارې د بلوچستان له مرکز کوټې سره نښتی دی. د کوږک له لارې په ۱۹۸۰ز لسیزه کې افغان مجاهدینو ته امکانات ور روان وو، خو اوس دواړه، افغان طالبانو او ناټو ته هم له دې لارې توکي ورځي. کوټه چې په وچو غرونو کې پروت ښار دی، د وړوکي کابل په څېر ښکاري. د پاکستان له سویلي ښار کراچۍ وروسته، کوټه کې ګڼ او بېلابېل قومونه مېشت دي، خو پښتانه یې اکثریت جوړوي. د نړیوالو په روانو جګړو کې د نورو سرحدي سیمو په څېر کوټې هم بدلون کړی. هغه کوټه چې یو وخت یوازې پکې یو برېټانوي سناتوریم، یوه چوڼۍ او لږ خلک مېشت وو، نن ورځ یو نیم میلیون نفوس لري. دلته د پښتنو ترڅنګ بلوځ هم اوسېږي چې دواړو قومونو د مېشتېدو پراخې سیمې نیولې دي. **دوام لري...**

# راځئ سفر وکړو

اکسوس کتابپلورنځي




مشهور انګلیسـي لیکوال ډېوېډ مېچل (David Mitchell) یو وخت ویلي وو: «هغه کس چې له ډېرې شتمنۍ سره مړ شي، ګټونکی دی»، خو اصلي خبره دا نه ده، ګټونکی هغه څوک دی چې ډېرې تجربې ولري او په خوښۍ کې یې ژوند کړی وي. ولې وایي چې خپله ټوله شتمني په سفر ولګوئ؟

پخوا خلکو داسې فکر کاوه چې ټولې خوښۍ په مادیاتو کې دي، خو اوس علم ثابته کړې ده، هغه څه چې تاسو ته خوښي درکوي، هغه تجربې دي. تجربې لکه سفر، له کوره بیرون کار کول، نوي شیان زده کول، له نندارتونونو لیدنه او داسې نور... موږ داسې فکر کوو چې نوی برنډ ټلوېزیون له یوې ښکلې جزیرې څخه تر لیدو ښه دی او یا ډېر عمر کوي، خو داسې نه ده.

د کارنل پوهنتون د ارواپوهنې استاد ډاکټر توماس ګیلووېچ (Thomas Gilovich) چې نږدې څو لسیزې یې د پیسو او خوښۍ تر منځ د اړیکې په اړه څېړنې کړې دي، وایي: «موږ پېرل کوو څو خوشاله شو او په دې برخه کې یو څه بریالي هم یو، خو دغه خوښي ډېره موقتي ده. سمه ده چې د نویو شیانو اخیستل راته په زړه پورې وي او خوشاله کوي مو، خو له یو څه مودې وروسته ور سره عادت کېږو». د بېلګې په توګه، نوی ټلوېزیون مو تل د سترګو په وړاندې وي، ور سره عادت کېږو. دغه ټلوېزیون لکه د یوه غبار په څېر ورو ورو د اسمان په خوا ځي او اخر مو له سترګو پناه کېږي، خو سفر کول راته بیا داسې تجربې راکوي چې ټول عمر را سره وي او د وجود یوه برخه مو ګرځي.

فکر وکړئ، کوم یو به در باندې ډېر اغېز وکړي، د لوبو هغه سامانونه چې په کوچنیوالي کې مو درلودل او یا هغه سفر چې له کورنۍ سره مو یو ځای کوم هېواد یا ښار ته کړی و؟ هغه سفر ښایم چې اوس هم در په یاد شي، ډېرې خوږې خاطرې مو یې په ذهن کې ګرځي.

ګیلووېچ د حیرانوونکي ژوند تر نامه لاندې په یوه څېړنه کې چې په (Journal of Consumer Psychology) کې چاپ شوې هم ده، وایي: «دا زموږ تجربې دي چې د ژوند او وجود پر یوې لویې برخې مو بدلېږي، نه زموږ شتمني».

کېدای شي ستاسو په ژوند کې ډېر داسې څه وي چې له کچې زیاته مینه ور سره ولرئ او ان د هویت په څېر ور سره تړلي وي، خو له دې سره سره هغه ستاسو له وجوده لرې وي. په بدل کې یې بیا تجربې هغه څه دي چې ستاسو له وجود سره تړلي او نه بېلېدونکي دي.

ګیلووېچ همدا راز وایي: «د مادیاتو اخیستلو په پرتله د تجربو اخیستل اسانه هم دي او داسې څه دي چې نه له لاسه ورکول کېږي او نه هم زړېږي. په اصل کې دا تجربې دي چې زموږ د وجود یوه برخه جوړوي، له نورو سره مو نږدې کوي او ډېرې لویې خوښۍ راکوي».

نو ولې بیا په تمه یاست!؟ هغه پیسې چې د کور لپاره مو د نویو شیانو اخیستو ته ځانګړې کړې دي، را واخلئ او له کورنۍ سره مو په ګډه سفر وکړئ، موزیم ته لاړ شئ او یا هم د ښار یوه ښکلي پارک ته لاړ شئ او څو شېبې په خوښۍ تېرې کړئ. ډاډه یم چې دا خوښي به مو ټول عمر په یاد وي او هر وخت به یې له خاطرو او تجربو خوند اخلئ. راځئ سفر وکړو کتاب د سفر په اړه پر لارښوونو پیل شوی دی. وروسته پکې هغه ځایونه در پېژندل شوي، چې د سیل او چکر لپاره خورا مناسب او مشهور دي. مانا دا چې هر کال ترې ډېر خلک لیدنه کوي او د دې لپاره ورځي، چې یو څو شېبې یې په خوښۍ تېرې شي، تجربې تر لاسه کړي او په ژوند کې ورته د یوې خاطرې په توګه پاتې شي. د دغه کتاب لیکوال الهام رهنورد دی او حمیدالله حمیدي پښتو ژبې ته را ژباړلی دی. کتاب ټول سل مخونه لري چې په کابل کې د اکسوس کتابپلورنځي لخوا چاپ شوی. پر اکسوس کتابپلورنځي سربېره یې په کابل او د ولایتونو په لویو کتابتونونو کې پیدا کولی شی.

## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د اسلامي نړۍ تاریخ درې ټوکه | پروفیسرمحمد نعیم صدیقی | ۸۰۰ؑ |
| ۲ | تیوری و میتودهای تدریس فزیک | پوهاند دکتور حسن خان اخلاص | ۲۶۰ؑ |
| ۳ | و کتور آنالیز | پوهاند دیپلوم انجینیر خالقداد فیروز کوهی | ۳۰۰ؑ |
| ٤ | مجموعه سوالات کلیدی و تکنیکی ستاژ قضا | عبدالمجیب بارع | ۱۸۰ؑ |
| ٥ | لسم ولسمشر (ناول) | نور الله سلطان زوی | ۱۰۰ؑ |
| ٦ | د ترکیبی افعالو قاموس انګلیسي ـ پښتو | میرویس غورځنګ | ۲۵۰ؑ |
| ۷ | ACTIVE SKILLS FOR READING INTRO CD | Neil J Anderson | ۲٤۰ؑ |
| ۸ | ACTIVE SKILLS FOR READING 1 CD | | ۲۰۰ؑ |
| ۹ | ACTIVE SKILLS FOR READING 2 CD | | ۲۰۰ؑ |
| ۱۰ | CD ACTIVE SKILLS FOR READING۳ | | ۳۰۰ؑ |
| ۱۱ | ACTIVE SKILLS FOR READING 4 CD | | ۳۰۰ؑ |
| ۱۲ | Reading and Vocabulary Development Facts & Figures | patricia Ackert | ۱٥۰ؑ |
| ۱۳ | Reading and Vocabulary Development Thoughts & Notions 2 | | ۱٤۰ؑ |
| ۱٤ | Reading and Vocabulary Development Cause & Effect 3 | | ۱٤۰ؑ |
| ۱٥ | Reading and Vocabulary Development Concepts & Comments 4 | | ۱٥۰ؑ |
| ۱٦ | زما ژوند د هوا په سترېو څپو کې | ډګرجنرال عبدالوهاب وردګ پیلوت | ۱۰۰ؑ |
| ۱۷ | حاملګی زیباست تولد و مراقبت از فرشته زیبای کوچک | دکتر شانتی ګوش | ۲۰۰ؑ |
| ۱۸ | هم خانه با خدا در حیات جاودان | نیل دونالد والش | ۳۰۰ؑ |
| ۱۹ | مهارت های زندګی | د کتر آرنولد لازاروس | ۱٥۰ؑ |
| ۲۰ | آموزش روزنامه نګاری | دبورا پار | ۱۸۰ؑ |
| ۲۱ | فرهنګ شهر نشینی | دا کتر منصور مجاب | ۲۰۰ؑ |
| ۲۲ | مقدمه ای بر جامعه شناسی نابرابریهای اجتماعی | علی کمالی | ۱٥۰ؑ |
| ۲۳ | در آمدی بر جامعه شناسی سیاسی تنوع قومی مسایل و نظریه ها | علی کریمی | ۲٥۰ؑ |
| ۲٤ | اخلاق پروتستان و روح سرمایه داری | ماکس وبر | ۱۲۰ؑ |
| ۲٥ | عقل و اعتقاد دینی | مایکل پترسون | ۱٥۰ؑ |
| ۲٦ | سیاست پوهنه | فرهاد داوري | ۳۰۰ؑ |
| ۲۷ | د پیسو نړیوال مسایل | پوهاند دوکتور عبیدالله شینواری | ۱۸۰ؑ |
| ۲۸ | حقوق اساسی جمهوری اسلامی افغانستان | دکتر عبدالعلی محمدی | ٤۰۰ؑ |
| ۲۹ | اسناد اداری نویسندګی حقوقی و اداری | حمیداللهعبدالهی | ۱۳۰ؑ |
| ۳۰ | ته چې ومرې څوک به ژاړي؟ | روبین شرما | ۱۳۰ؑ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

همیانۍ

# ولې د هغه دندې په لټه کې نه یو چې مینه ورسره لرو؟

ژباړه: امان الله «حنیفي»

موږ هر یو ځانګړی شخصیت، متفاوتې وړتیاوې او بېلابېلې هیلې لرو. زموږ پر دې پوهېږو چې په کومه برخه کې کار کول زموږ خوښېږي او ممکنه ده چې له فراغت وروسته په دې برخه کې کار وکړو. زموږ ډېرو لپاره دنده او کار له مینې او علاقې پرته بل څه دي. داسې چې له اړواپوهنې سره مینه لرو، خو انجنیري وایو. له نقاشۍ سره مینه لرو، خو مالي او بانکي زده کړې کوو. انجنیري مو خوښېږي، خو ادبیات لولو. غواړو چې د ځان لپاره کار وکړو، خو د کولو لپاره یې نور کسان ګومارو. یوازې ډېر محدود شمېر کسان دي چې د دندې او کار په اړه یې د څېړونکو د پوښتنو پر مهال ویلي، چې دوی له خپلې دندې سر مینه لري. موږ ډېری د خپلې خوښې په دنده او کار پسې نه یو تللي. خو ولې داسې ده؟ ولې هغه دنده او کار ونه کړو چې مینه ورسره لرو؟

زموږ ډېری ان د ځوانۍ او پوخ عمر په دوران کې هم لا د خپلې خوښې وړ کار او خپلې وړتیاوې سمې نه پېژنو. موږ ډېر پړه هم نه یو، ځکه ډېر وخت موږ ته په دې اړه سمه لارښوونه نه ده شوې او نه هم راته د زده کړو په مرکزونو لکه، ښوونځي، پوهنتون کې لازمې زده کړې راکړل شوې دي. ښوونځی یوازې د خپلو وړتیاوو د موندلو او هغه ته د لازمې توجه دوره ده؛ خو په عمل کې نه پلې کېږي. موږ ډېر وخت د مجبوریتونو له امله هم خپلې وړتیاووې وژنو او په یوه داسې برخه کې کار کوو چې اصلاً مو زړه نه وي. د خپلې خوښې وړ کار د پیدا کولو یا موندلو لپاره که هرڅو د شخصي وړتیاوو په کشف او موندلو پسې هڅه وشي؛ خو بیا هم نه شي کولای چې دغه تشه سمه ډکه کړي. اصلاً د خپلې خوښې پر دنده پوهېدل چې زموږ کومه دنده خوښېږي، سخته خبره نه ده. څېړونکي وایي، په دې برخه کې د ژوند کولو چاپېریال، شخصي تجربې او تر ډېره د انسان چار چلند هم اغېز لري. خو تر ډېره پورې دا مسئله چې څه ستاسې د خوښ وړ دي، ستاسې په درون پورې اړه لري. تاسې باید خپله له ځان څخه وپوښتئ چې څه ستاسې د خوښ وړ دي؟ په کوم کار او دنده کې ژر پرمختګ کولای شی؟ ستاسې مسوولیت به څه وي؟ دا او دې ته ورته نورې پوښتنې کولای شي له تاسې سره د خپلې خوښې وړ دندې په پیدا کولو کې مرسته وکړي.

زموږ ډېریو لپاره د کار او دندې لار ښوونځی او کانکور ټاکي. د ښوونځي پر مهال د هرچا خبرې ته غوږ وو، هر څوک د خپلې زاویې له مخې راته د پوهنتون ستاینه کوي، له موږ اصلي لار او خپله علاقه ورکه شي. ځینې وخت خو داسې هم کېږي چې د نورو خلکو د حالت قرباني شوي یو، د بېلګې په توګه، طب پوهنځی ځکه انتخابوو چې زموږ بل کلیوال یا ګاونډي طب لوستی او اوس ښې پیسې ګټي. انجنیري ځکه لولو چې ماما مو انجنیر دی او اوس ښه موټر لري. زموږ ډېری خو ان د خپل مور او پلار د غوښتنو او هیلو قرباني هم یو، د مور او پلار مو طب خوښېږي، هغه راته وایي چې بچیه تاسې باید حتماً طب ولولی. موږ که په زړو وي که په رضا، که مو خوښېږي او که نه، د دوی لپاره به طب لولو.


موږ ډېری وخت د ټولنې د غوښتنو له امله هم نه شو کولای چې د خپلې خوښې ټاکنې وکړو، که د ټولنې غوښتنو ته سر د نه په اشار خوځوو، وېرېږو چې هسې نه مسخره شو. هماغه وي چې له دوی سره پر ماته کښېنې د سیند منځ ته ځو. آرتو شوپنهاور وایي: «موږ خپل نیم ژوند له نورو سره د ورته والي پیدا کولو په لار کې ضایع کړی دی». دا سمه ده چې انسان ټولنیز مخلوق دی او باید په ټولنه کې ژوند وکړي، خو شخصي هیلې او غوښتنې یې باید د ټولنې د غوښتنو قرباني نه شي.

خو په هر حال، همدا اوسنۍ دنده او کار زموږ لپاره غنیمت دی، که یې پرېږدو، ممکن ډېر وخت بله دنده پیدا نه کړو او له ماتې سره مخ شو. خو د وخت په تېرېدو سره کولای شو خپل کاري مسیر بدل کړو او د ماتې خوړلو چانس راکم کړو. کولای شو د خپلې اوسنۍ دندې په څنګ کې د خپلې خوښې وړ دندې په پیدا کولو او هغه ته د لازمو وړتیاوو د پوره کولو په لټه کې شو. کله یې چې په پیدا کولو او بالاخره په لاسته راوړلو بریالي شوو، بیا سمه ده چې مخکینۍ دنده چې زموږ په زړه نه وه جوړه، خوشي کړو. خو پام مو وي، پر دې لار تګ حتماً له ماتو سره مل دی، موږ باید د ماتې له مدیریت سره حوصله ولرو، له خپلو تېرو تېروتنو او ماتو د هغه په نظم او بیا هڅه کې ګټه واخلو، څو وکړای شو خپل کاري مسیر ورو په ورو سم او په خپل زړه برابر کړو. د خپلې خوښې وړ دنده کې موقتي ماتې، په جبري او تحمیل شوي دنده کې تر ډېرو لویو بریاوو ښې دي. ځکه دا مو د وخت په تېرېدو د ارام خوا ته بیایي او هغه مو ورځ په ورځ روح ځپي او خوشالي درنه اخلي.

له بریا وېره کېدای شي تاسې ته په نظر یو عجیب څه درشي، خو دا حتمي او واقعیت لرونکې ده. داسې تصور کړئ چې تاسې د یو بریالی کس شی او ټولو هیلو ته دې ورسېږئ. داسې تصور چې واقعاً هم تاسې داسې ځای ته ورسېږئ، په تاسې کې څه احساس پیدا کوي؟ ولې داسې وشي چې موږ هر یو له بالقوه وړتیاوو سره دې دنیا ته راشو او بیا ځینې محدود کسان له هغه څخه ګټه واخلو؟ اړواپوهان د دې یو لامل له مسوولیت اخیستو وېره بولي. دوی وایي، ډېری انسانان له دې چې نیوکه به پرې وشي یا دا چې څوک به یې مسخره کړي، عادي کارونه کوي او ډېری وخت د بل په غوښتنه پسې ځي، په خپل ذوق او علاقه هېڅ کار هم نه کوي، چې دا بیا وروسته ورته ډېر ګران تمامېږي.

موږ ټول غواړو چې په ژوند کې بریالي او د خپلې خوښې وړ ځای ته ورسېږو، خو هغه کار بیا نه کوو چې همدې ځای ته مو رسوي. که غواړې چې د خپلې خوښې وړ کار او دنده ولرې، د نورو غوښتنې او خبرې مه اورئ. که په لومړیو کې دا کار درته سخت وي، ښه ده چې ورو ورو د خپلې خوښې وړ دندې لپاره کار وکړی او د یوڅه وخت په تېرېدو سره ځان هغه ته ورسوي. دې موقف ته د رسېدو پر لار وېره له زړه وباسئ او داسې تصور وکړئ چې تاسې هغه ته رسېدلي یاستی.

## وکیلان: د ولسي جرګې د کورنیو ستونزو له امله د دې جرګې یوه تقنیني ربعه ضایع شوې ده



په داسې حال کې چې له سلوزیات تقنیني سندونه د ولسي جرګې د تصویب لپاره د جرګې پر مېز پراته دي، د دې جرګې ځینې غړي وایي، د جرګې د اداري پلاوي له ټاکلو وروسته دا مهال د کمېسیونونو پر ریاستونو لانجه روانه ده.

د دغو وکیلانو له ډلې رمضان بشر دوست ازادي راډیو ته ویلي چې دا مهال کمېسیونونه د ځینو کسانو په انحصار کې دي او تر ډېره وکیلان هغو کمېسیونونو ته نوملیکنه کوي چې جیبونه یې پکې ډکېږي.

هغه زیاته کړې: «داسې کمېسیون شته چې هېڅ وکیل ورته نوملیکنه نه ده کړې؛ ځکه هلته نه جیب ډکېږي او نه هم ښه ځوکۍ لري. تاسې فکر وکړئ، د ولسي جرګې په تقنیني کمېسیون کې هېڅا نوملېکنه نه ده کړې».

دغه راز د ولسي جرګې بل غړي کمال ساپي ویلي، د ولسي جرګې د کورنیو ستونزو له امله د دغې جرګې یوه تقنیني ربعه ضایع شوې ده.

هغه ویلي: «په ولسي جرګه کې دننه د داخلي ستونزو له کبله د ولسي جرګې یوه تقنیني ربعه له لاسه ووته».

دا په داسې حال کې ده چې تر راتلونکو څو ورځو وروسته به د ولسي جرګې غړي د اوړي په رخصتۍ ولاړ شي.

د ملي شورا اوولسمه دوره د ولسمشر غني لخوا د غویي په شپږمه پرانیستل شوه. له یادې نېټې وروسته د ولسي جرګې د اداري پلاوي په ځانګړې ډول د جرګې د رییس د ټاکلو لپاره ټاکنې وشوې چې لانجمنې شوې او ان تر فزیکي شخړو هم ورسېدې.


اوس دا دی له تېرو دوو اونیو راهیسې د کمېسیونونو لپاره ټاکنې روانې دي چې لا هم نه دي بشپړې شوې، خو د ولسي جرګې نایب منشي عرفان الله عرفان وایي چې د کمېسیونونو ۹۰ سلنه ستونزې هوارې شوې دي.

هغه زیاتوي: «نږدې ۹۰ سلنه ستونزې هوارې شوې دي، د ۱۲ کمېسیونونو رییسان او اداري پلاوي ټاکل شوي او هیله من یو چې ولسي جرګه ډېر ژر خپل عادي حالت ته وګرځي».

بلخوا د حقوقي چارو کارپوهان هم وایي چې د ولسي جرګې د هرې ورځې د ضایع کېدو زیان ولس ته رسېږي او د ولس باور په پارلمان له منځه تللی دی.

دوی وایي، که ولسي جرګه خپلې ستونزې حل نه کړي، د ولس له تند غبرګون سره به مخ شي.

## د پاکستان د هوایي حریم په تړل کېدو افغانستان ته ۲۷ میلیون ډالره زیان اوښتی دی



د پاکستان حکومت تر څه باندې څلور میاشتني بندیز وروسته خپل هوایي حریم د ټولو بهرنیو ملکي پروازونو پر مخ پرانیستلی دی.

دا په داسې حال کې ده چې یاد هېواد سږ کال په غویي میاشت کې له هند سره تر کړکېچ وروسته خپل هوایي حریم د ټولو بهرنیو پروازونو پر مخ بند کړ.

د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري مسوولین وایي، د پاکستان حکومت وړمه ورځ د «NOTAM» په خپرېدو سره خپل هوایي حریم د ټولو بهرنیو پروازونو پر مخ پرانیست.

افغانستان ته چې د پاکستان له هوایي حریم څخه په استفادې یې هند ته پروازونه کول، د دغه هېواد د هوایي حریم په تړل کېدو سره ډېر مالي زیانونه ورسېدل.

افغان هوایي شرکتونو د یادې ستونزې تر رامنځته کېدو وروسته، د پاکستان پر ځای د ایران د فضا له لارې هند ته پروازونه کول چې د پاکستان په پرتله د زیاتې فاصلې او وخت له امله یې ټکټونه هم ګڼ شول.

د افغانستان د ملکي هوایي چلند اداري ویاند قاسم رحیمي امریکا غږ ته ویلي: «وروسته له دې به د کابل- ډېلي او کابل- ممبی پروازونه د پخوا په څېر عادي د هېواد د ختیځ هوایي دهلېز له لارې تر سره کېږي».

دا په داسې حال کې ده چې د پاکستان د هوایي حریم په تړل کېدو سره د افغانستان پر فضا هم بهرني پروازونه بند شول.

د دغې اداري ویاند همدارنګه زیاته کړې چې د پاکستان د هوایي حریم په تړل کېدو سره افغانستان ته څه باندې ۲۷ میلیون ډالره زیان رسېدلی دی.

افغانستان همدارنګه د یادې ستونزې تر رامنځته کېدو وروسته، تېره اونۍ د افغانستان او تاجکستان له هوایي حریم څخه چین او ختیځې اروپا ته دوه نوي هوایي لاینونه رامنځته کړل.

---

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۸۰,۲۵ |
| € | ۹۰,۲۰ |
| Rp. | ۵۰۰ |
| ₹ | ۱۱۷۰ |
| ¥ | ۱۱,۵۰ |
| £ | ۹۹,۷۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |

Kam Air

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |

flydubai

| | |
|---|---|
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**لیکوالان:** اېمل خان، نذیر احمد سهار
او شفیق همدرد
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲۶۲۶
۰۷۸۲۹۸۹۶۹۶

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer
New Vision, New Journey
Daily



المبارک
توریستي شرکت
المبارک د ښه سفر لپاره غوره انتخاب دی!
flydubai
TURKISH AIRLINES
Emirates
ARIANA

0786 55 55 91, 0786 55 55 92
0786 55 55 93, 0777 77 78 55
کابل د میوند جادې وروستی برخه، خوست تاور، لومړی پوړ.



چهارشنبه د ۱۳۹۸ د چنگاښ ۲۶مه | د ۲۰۱۹ د جولای ۱۷مه | دربیم کال | ۴۰۶مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳٦ | ٤۱ | ٤۳ | ٤۳ | ٤۲ | ۳۹ |
| ۱۹ | ۲۳ | ۲٤ | ۲۹ | ۲٦ | ۲٤ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۱۲ | لمر ختل ۰٤:۵۲ | ماسپښین ۱۲:۰۰ | مازیگر ۰۳:٤۹ | ماښام ۰۷:۰۷ | ماخوستن ۰۸:٤۹

## نړۍ

# اروپايي ټولنه: له نړيوالو قدرتونو سره له شوي اټومي تړونه د ايران سرغړونه جدي نه ده



۳

## د امریکا کانگرېس د ټرمپ د وروستیو څرگندونو په غبرگون کې د هغه د استیضاح غوښتنه کړې



وروسته له هغې چې د امریکا د متحده ایالتونو پر ولسمشر ډونالډ ټرمپ نیوکې د زیاتېدو په حال کې دي، ټرمپ بیا د کانگرېس د څلورو غړو په اړه له تبعیضه ډکې خبرې کړې دي.

دا په داسې حال کې ده چې ټرمپ ورمه ورځ د کانگرېس د څلورو غړو د څرگندونو په غبرگون کې په سپینه ماڼۍ کې یوې غونډې ته وویل: «هغوی یوازې شکایت کوي. دا خلک زموږ له هېواده کرکه لري، نو که دلته خوشاله نه دي، له دې ځایه تلای شي. لاړې دې شي او خپل هېوادونه دې جوړ کړي، د دې پر ځای چې پر موږ نیوکې وکړي».

هغه دغه راز ویلي: «موږ به هېڅکله یو سوسیالېست یا کمونېست هېواد نه شو. که دلته خوشاله نه یاست، ولاړ شئ!»

ولسمشر ټرمپ دا خبرې له نیویارکه د کانگرېس د غړې الکساندریه اوکازیو کورتیز، د مېشگن ایالت د وکیلې رشیده طالب، د مینیسوتا ایالت د وکیلې الهان عمر او د ماساچوست د وکیلې ایانه پرېسلي د څرگندونو په غبرگون کې کړې دي.

بلخوا د امریکا په کانگرېس کې د ډیموکراټ گوند دغو څلورو غړو د ټرمپ دغه څرگندونې غندلې او له تعصبه ډکې یې بللې دي.

هغوی دغه راز له ډیموکراټ گونده غوښتي چې د ټرمپ د استیضاح پروسه پیل کړي او نوموړی دې په دې تړاو وضاحت ورکړي.

## د پاکستان تر کنټرول لاندې کشمیر کې د سېلابونو له کبله ۲۸ کسان مړه شوي دي



د پاکستان تر کنټرول لاندې کشمیر کې وروستیو سختو بارانونو او سېلابونو ډېرو خلکو ته مرگ ژوبله اړولې ده.

د پاکستان له طبیعي پېښو سره د مبارزې د مرکزي ادارې یوه چارواکي سیدالرحمن قریشي له ایکسپرېس ټربیون ورځپاڼې سره په خبرو کې ویلي، چې په دې پېښه کې تر اوسه ۲۸ کسان مړه شوي او دغه راز یې د مرگ ژوبلې د شمېر د زیاتوالي په اړه اندېښنه ښودلې ده. د راپورونو له مخې، د ازاد کشمیر په نیلم دره کې د سېلابونو له امله په وژل شویو کسانو کې د ۱۰ تبلیغیانو په گډون، ښځې او ماشومان هم شامل دي چې د سیل لپاره نیلم درې ته تللي وو.

چارواکو ویلي چې دغو سېلابونو تر ۱۵۰ زیاتو کورونو ته هم زیانونه اړولي چې له امله یې زرگونه کسان د خپلو کورونو پرېښودو ته اړ شوي دي.

چارواکو دغه راز ویلي چې سیمې ته د ژغورنې ټیمونه او بېړنۍ مرستې رسېدلې او له نړیوالو مرستندویه بنسټونو څخه یې هم غوښتنه کړې چې سیمې ته بېړنۍ مرستې ولېږي.

د یادونې وړ ده چې په پاکستان کې هر کال د جولای په میاشت کې د مونسون یا پشکال د توپاني بارانونو لړۍ پیلېږي چې له امله یې د دغه هېواد په بېلابېلو سیمو کې سخت سېلابونه راوځي او ډېرو خلکو ته مالي او ځاني زیانونه اړوي.

## سفیر فرانسه در کابل: صلح در افغانستان باید استوار بر قانون اساسی باشد



دیوید مغتینان، سفیر فرانسه در افغانستان، در مراسم تجلیل از روز ملی فرانسه در کابل، بر صلح استوار بر قانون اساسی افغانستان در این کشور تأکید کرد و گفت که قانون اساسی سرمایه مشترک مردم افغانستان است.

این دیپلومات بلند فرانسه‌یی گفته است که برای نخستین بار، یک گفت‌وگو میان افغانان آغاز شده است.

او گفته است که فرانسه به امکان آشتی که استوار بر قانون اساسی جمهوری افغانستان باشد، معتقد است زیرا به گفته او، این قانون اساسی حاصل مبارزه‌ی مردم افغانستان است.

سفیر فرانسه همزمان با ۱۰۰ ساله‌گی سالروز استقلال افغانستان گفته است که واقعاً یک ملت احد در افغانستان درحال رشد است.

او افزوده است: «ما معتقدیم که یک قرن بعد از استقلال، واقعاً یک ملت واحد در افغانستان در حال رشد است. ملت سازی زمانگیر بوده و مستلزم عزم و اراده می‌باشد و ما فرانسوی‌ها، باور داریم که یک ملت زاده اراده‌ی مشترک برای همزیستی در کنار هم است».


او با اشاره به حضور نقش فرانسه در جنگ با تروریزم در افغانستان گفته است که تا به ۴۰۰ سرباز نیز زمانی فرانسه در افغانستان داشت و آنان در سال ۲۰۱۳ از این کشور بیرون شدند.

سفیر فرانسه افزوده است: «فرانسه در همان نخست، در سال ۲۰۰۱، با سهم گرفتن در قوای بحری به عملیات پیوست و در جنوری ۲۰۰۲، ۴۰۰ عسکر فرانسوی تحت فرماندهی آیساف در کابل مستقر شدند. به تعدادی بیش از ۲۰۰ نیروی خاص فرانسه در سپین بولدک مستقر شدند و در سال ۲۰۱۳ افغانستان را ترک کردند».

او در بخش دیگری از سخنان‌اش گفته است که تا دو ماه آینده، افغانان فرصت رأی دادن برای انتخاب رئیس‌جمهور جدید شان را خواهند داشت وبه گفته او این انتخابات نیز ثمره‌ی مبارزه‌ی شماست.

## ژوند

## پر له پسې ناستی ډېرو ناروغیو ته لار هواروي



په نني مصروف او بوخت دور کې د دفترونو زیاتره کارکوونکي اړ دي، چې پرله پسې د کمپیوټر تر شاه کېني او خپل کارونه سر ته ورسوي. خو په ډېرو څېړنو کې ثابته شوې، چې د څو ساعتونو لپاره پرله پسې ناسته د سگرېټ له څکلو څخه هم مضره او خطرناکه ده.

په پرله پسې ډول ناسته د زړه او سرطان ناروغۍ پیدا کوي. په څېړنه کې د پرله پسې ناستې موده نه ده راغلې، خو ډاکټران سپارښتنه کوي، چې له هر ساعت یا څه زیات ناستې وروسته باید ناست کس د څو دقیقو لپاره ودرېږي او یا هم قدم ووهي. ډاکټران وایي، که یو څوک د ورځې له ۸ – ۱۰ ساعتو پورې په ناسته خپل کارونه کوي، د زړه، سرطان، مغزو او هډوکو پر ناروغۍ اخته کېږي. د ورځې ۸ ساعته ناسته بیرته په یو ساعت سخت تمرین (سپورت) سره هم نه جبرانېږي. دوامداره ناسته خېټه غټوي او هډوکي کمزوري کوي. هغه کسان چې کارونه تر ډېره په ناسته تر سره کوي، هرو مرو باید یو ساعت وروسته له خپله کار ځایه پاڅي او څو قدمه په خپله کارخونه کې وگرځي او قدم ووهي.

## څه ډول له درې گونو ذهنونو گټه واخلو؟



په یاد لرئ چې تاسو یو بالقوه نابغه او د یو میلیون مغزي سلولونو درلودونکي یاست، چې هر یو یې بیا له شلو زرو زیاتو نورو سره اړیکه لري او تاسو د دې ظرفیت درکوي چې په ډېره لوړه سطحه فکر وکړئ. د دومره لوړ فکر په درلودلو سره خوښه ستاسو ده، چې له خپل فکر څخه مثبته گټه اخلئ او که منفي. د هوښیار ذهن په وسیله کولی شئ هغه څه چې غواړئ ځان ورته ورسوئ.

که موخه لرئ، لومړی یې پر کاغذ ولیکئ او له هغه وروسته یې خپل نیمه هوښیار ذهن ته وسپارئ. دا کار د دې لامل کېږي چې تاسو خپل مافوق هوښیار ذهن پر کار واچوئ او گټه ترې واخلئ. کله چې تاسو پر دې باندې باور وکړئ، چې ستاسو مافوق هوښیار ذهن ۲۴ ساعته کار کوي او هر هغه څه چې غواړئ ورته رسېدای شئ، نو پوه شئ چې تاسو له خپل کامل ذهن څخه گټه اخیستې ده. له درې گونو اذهانو څخه گټه اخیستل په دې مانا دي، چې تاسو پر خپل لوري د بریا دروازې پرانیستې دي.